
رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ

# د امام حسين عبادت

12-September-2019





هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د امام حسین عبادت

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا رَسُوْلَ الله		وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْکَ یَا نَبِیَّ الله		وَعَلٰی اٰلِکَ وَاَصْحٰبِکَ یَا نُوْرَ الله

**نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ** (ترجمه: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښے ئے نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښے د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمني او روژه ماتي کولو، تر دے چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالیٰ رِضا وي. ''**فتاویٰ شامی**'' کښے دي: که څوك جُمات کښے خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د دُرُود شریف فضیلت

زمونږ د خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: د قیامت په ورځ به خلقو کښے د ټولو نه زیات ما ته نِزدے هغه کس وي څوك چه د

ټولو نه زيات په ما باندے دُرود شريف لوَلي. (ترمذی،ابواب الوتر،باب ماجاء فی فضل الصلاۃ...الخ، ۲/۲۷، حدیث:۴۸۴)

حکيمُ الاُمّت حضرت مفتي احمد يارخان نعيمي رَحْمَۃُاللہِ تعالٰی عَلَيْه د دے حديثِ پاك لاندے فرمائي: د قيامت په ورځ به د ټولو نه زيات په آرام کښے هغه [کس] وي څوك چه رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره وي. او د حُضور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ملګرتيا نصيب کيدلو ذريعه د دُرود شريف کثرت دے. د دے نه معلومه شوه چه دُرود شريف بهترينه نيکي ده ځکه چه په ټولو نيکو جَنَّت ملاويږی او د دے [دُرود شريف] سره د جَنَّت شهنشاه (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ملاويږي. (مرآۃ المناجیح، ۲/۱۰۰)

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدو نه مخکښے ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے.[1]

هر نيك او جائز کار کښے چه څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

## د بيان اوريدو نيتونه

[نِيَّت اوکړئ چه] نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ☆ چه څومره کيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت دوزانو [يعني د اَلتَّحِيَّات په

[1] (معجم کبیر سھل بن سعد الساعدی...الخ، ۶/۱۸۵، حدیث ۵۹۴۲)

شکل کښې ] کښېنم ☆ د بل د پاره ځائے فراخه کولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزیږم ☆ که د چا په دِیکه وغیره اولګیدم نو د بد بد کتلو، رټلو او بحث کولو په ځائے به صبر کووم. ☆ صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب، اُذْکُرُوااللہ، تُوْبُوْااِلَی اللہ وغیره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز لګوونکو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت آواز باندے جواب ورکووم. ☆ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښې کیږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د **مُحَرَّمُ الْحرام** بابرکته میاشت روانه ده، دا مبارکه میاشت د شُهَدائے کربلا او خاص طور د حضرت سَیِّدُنا امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ سره یو خاص نسبت لري، په دے مناسبَت به د نن په بیان کښې مونږه د امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ د عبادت، تقوٰی او پرهیز ګارئ، د هغوئي د صدقه و خیرات، د هغوئي فضائل او مناقب، شان و عظمت او د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئی سره محبت او خاص طور د اِمام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د عبادت د ذوق او شوق، د هغوئي د عبادت واقعات اورو. کاش! چه مونږ ته ټول بیان د ښو ښو نیتونو سره اوریدل را نصیب شي.

راځئ چه د ټولو نه مخکښې یوه واقعه واورو، چنانچه

## د امام حسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د مَحبَّت ثواب

حضرت سیِّد علامه عبد الرحمٰن ابنِ جورزي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ فرمائي چه یو ځل د عَمرو بن لَیث مخے ته د هغه ټول فوج جمع کړے شو، عَمرو بن لیث چه کله د خپل فوج کثرت

[یعني زیاتوالے] اولیدلو نو په ژړا شو او په زړه کښے ئے اووئیل: کاش چه زه د امام حسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د شهادت په وخت کښے هلته موجود وے او زما سره دومره فوج وے نو ما به خپل ځان، شان و شوکت او خپل ټول فوج په هغوئي باندے قربان کړے وے. د هغه وخت یو ولي ته په خوب کښے د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دیدار نصیب شو، خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه ته اوفرمائیل: عَمرو بن لیث ته اووایه چه ستا په زړه کښے چه کوم خیال راغلے دے مونږ د هغے نه خبر یُو او مونږه ستا اِراده قبوله کړه، الله پاك دِ تا ته په دے اراده او خیال باندے اجرِ عظیم درکړي. کله چه خوب لیدونکي عَمرو بن لیث ته دا زیرے واورولو نو هغوئي ډیر خوشحاله شو او د سترګو نه ئے اوښکے روانے شوے.

**اے د امام حُسین عاشقانو!** تاسو واوریدل چه څوك خوش نصیبه د خپل شُهرت، مقام او مرتبے هیڅ پرواه اونکړي او صرف په زړه کښے د الله تعالیٰ د رضا او د نبي کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوشحالولو د پاره امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ سره مَحبَّت او عقیدت ښکاره کوي، په خپل زړه کښے د هغوئي د خدمت کولو ارمان اوکړي نو د هغه خوش نصیبه نه ضرور خوږ حبیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوشحالیږي ځنګه چه مونږه دے حکایت کښے واوریدل چه خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د یو غلام په خوب کښے تشریف راوړلو او د عَمرو بن لیث د پاره ئے زیرے اوفرمائیلو او د هغه په زړه کښے راتلونکے خیال ئے قبول کړلو. راځئ چه واورو چه عَمرو بن لیث ته د امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د محبت په وجه نور کوم مقام او مرتبه حاصله شوي وه، چنانچه

## د امام حُسین د محبت په وجه ئے بخښنه اوشوه

د خُراسان بادشاه عَمرو بن ليث د وفات نه پس چا په خوب کښے اوليدلو نو تپوس ئے ترينه اوکړو چه الله پاك ستا سره څه مُعامله اوفرمائيله؟ هغه اووئيل: الله پاك زه اوبخښلم، تپوس ئے ترينه اوکړو چه په څه سبب؟ هغه اووئيل: يو ځل ما د غر نه د خپل لښکر کثرت [يعني زياتوالے] اوليدلو خوشحاله شوم، ما ارمان اوکړو چه کاش! زه هغه وخت په ميدانِ کربلا کښے وے چه کله د يزيديانو لښکر په امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ او نورو اهلِبيتو باندے ظلم کولو نو ما به د هغوئي څه خدمت کړے وے، الله تعالیٰ د هُم دے نِيَّت په وجه زه اوبخښلم.

(مدارج النبوت، باب نهم ذكر حقوق آنحضرت، ۳۰۵/۱ ملخصاً)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** دا حقيقت دے چه څوك په خپل زړه کښے د اهلِبيتو او د امام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ **محبت** ساتي هغه ته د دُنيا او آخرت برکتونه ملاويږي ځکه چه اهلِبيت کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان سره **محبت** کول داسے دي لکه د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره **محبت** کول. د اهلِبيت عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان **محبت** د دُنيا او آخرت د بيشميره نيکو خزانه ده، تر دے چه د اهلِبيتِ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان **مَحَبَّت** زمونږ د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شفاعت حاصليدو ذريعه ده ځنګه چه د خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوك چه وسيله حاصلول غواړي او دا غواړي چه زما په دربار کښے هغه څه خدمت اوکړي، چه د هغے په سبب د قيامت په ورځ زه د هغه شفاعت اوکړم، هغه له پکار دي چه زما د اهلِبيتو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان خدمت اوکړي او هغوئي خوشحاله کړي.

(برکاتِ آلِ رسول، ص۱۱۰)

**اے عاشقانِ اهلِبیت!** مونږ له هم پکار دي چه د اهلِبیتِ اطهار عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوان او خاص طور د سیدنا امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْه غلامي اختیار کړو او د هغوئي په سیرت باندے عمل اوکړو او د هغه مقدسُّو هستیانو ډیر ادب او احترام اوکړو، زمونږ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغوئي سره ډیره زیاته مینه کوله، چنانچه

## د حَسَنَینِ کریمَینو سره مینه

حضرت سَیِّدُنا ابو ایوب انصاري رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْه فرمائي: زه د رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښے حاضر شوم نو حَسَنَینو کریمَینو رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْهما د هغوئي په غیږه کښے لوبے کولے. ما عرض اوکړو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا تاسو دوئي سره محبت کوئ؟ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: زه دوئي سره محبت ولے اونکړم، حالانکه دا دواړه زما ګلونه دي چه د دوئي خوشبوئي زه بوئي کووم. (معجم کبیر، ۱۵۵/۴، حدیث:۳۹۹۰)

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو او محُترمو اسلامي ورونړو!** الله پاك امام علي مقام، امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْه ته ډیر خُصُوصیات او شان و عظمت ورکړے وو، د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ د عبادت او تقوٰی او پرهیزګارئ واقعات اوریدلو نه مخکښے د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ مختصر ذِکرِ خیر او تعارُف اورو: چنانچه

## مختصر تعارُف

☆حضرت سیِّدُنا امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْه سِن 4 هجري کښے د **شعبانُ المُعَظَّم** په میاشت کښے په مدینه منوره کښے پیدا شوے وو.☆خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د

هغوئي رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ نوم "حُسین" او"شبیر" کیښودلو. ☆د حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ کُنیت "ابو عبدُاللّٰه" او لقب "سِبْطُ رسُولِ اللّٰه" (یعني د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے) او "رَیْحَانَۃُ الرَّسُول"(یعني د رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم گُل) دے. ☆حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د جَنَّتي ځلمو سردا دے. (سیر اعلام النبلاء، الحسین الشہید...الخ، ۴/ ۴۰۲-۴۰۴ ملتقطا) ☆ نبـي کریم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي په غوږ کښے اذان کړے دے. (کنز العمال، حصہ:۱۶، ۲۵۲/۸، حدیث:۴۵۹۹۳) ☆حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ ډیر زیات سخي او نیك خصلت وو. ☆ حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ ډیر حجونه پیاده کړي وو. حضرت سیدنا مُصعَب رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ فرمائي: حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د مدینے منورے نه پیاده پینځه ویشت حجونه کړي وو. (اسد الغابة، رقم: ۱۱۷۳، الحسین بن علی، ۲۸/۲ ماخوذا) ☆حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د خوږ نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د خپل والد محترم **عَلِیُّ الْمُرتَضٰی** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ نه ډیر علم حاصل کړے وو. ☆د حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د علم نه ډکے خبرے داسے خوږے وے چه د خلقو به دا خواهش وو چه دوئي خاموشه نه اوسي بلکه مسلسل د علم و حکمت خزانے بیانوي. ☆حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه، د خپل والد صاحب نه، د والدے محترمے نه او د امیرُ المُؤمنین حضرت عمر فاروق عَلَیْہِمُ الرِّضْوان نه حدیثونه اوریدلي دي او روایت کړي دي. ☆د حضرتِ امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ مستقل علمي حلقه به په مسجد نبوی کښے لګیدله چه په هغے کښے به ئې خلقو ته فِقهي مسائل ښودل. ☆حضرت امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په لسم محرم الحرام ٦١ هجري

کښې په میدانِ کربلا کښې شهید شوے وو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د امام حُسین عبادت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د سیدنا امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ د پاك سیرت نه معلومه شوه چه هغوئي په هر صِفَت کښې بیمثاله وو، خو دا صِفَتونه هغوئي ته د خپل کور د تربیت نه حاصل شوي وو ځکه چه د ماشوم د تربیت وړومبئ مدرسه د هغه کور وي، د ماشوم وړومبني استاذان د هغه مور و پلار وي. د اِمام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ کور د وحي او اِلـهام مرکز او د علم و عرفان مرکز وو، د هغوئي کور د انوارو راوریدلو مرکز وو، د هغوئي کور د عبادت و ریاضت او سخاوت مرکز وو، د هغوئي کور د زُهد و تقوٰی او پرهیزګارئ مرکز وو، د هغوئي د کور خلقو به د غریبانو مدد کولو او د غم زپلو مدد به ئے کولو. هغوئي ته خو په ماشوم والي کښې د تعلیم وتربیت داسے بابرکته نوراني او روحاني ماحول حاصل شوے وو چه د دواړو جهانو سردار، خوږ مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په غیږه مبارکه کښې ئے تربیت حاصل کړے وو او د حُضُور اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاص برکتونه ئے نصیب شوي وو، هم دا وجه ده چه

**حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ په علم و فضل کښې بیمثاله وو، **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ د قربانئ او تَـوَکُّل نمونه وه. **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ په بهادرئ کښې بے مثاله وو.، **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ د تقوٰی او پرهیزګارئ مالك وو، **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ صدقه او خیرات کولو کښې بیمثاله وو، **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ

په هر حال کښې د صبر و شکر عادت لرلو، **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به د نیکۍ په کارونو کښې ډېره حِصَّه اخستله، **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د عبادت و ریاضت نمونه وو، **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به د فرائضو ادا کولو سره سره ډېر ډېر نفلي عبادتونه کول او د قرآنِ کریم د ډېر ډېر تلاوت کولو شوقین وو، تر دے پورے چه په ډېرو روایتونو کښې د هغوئي د عبادت او ریاضت، د نفلي لمُونځونو او د نیکۍ په کارونو کښې د ډېره زیاته حصه اخستلو تذکرے ملاویږي، راځئ چه د هغوئي د عبادت مُتَعَلِّق دوه روایتونه واورو: چنانچه

## د لمَانځه او روژے پابند

﴿۱﴾ علامه ابنِ اثیر جزري رَحْمَۃُ اللہِ تعالٰی عَلَیْہ فرمائي: **:کَانَ الْحُسَیْنُ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فَاضِلًا کَثِیْرَ الصَّوْمِ وَالصَّلٰوۃِ وَالْحَجِّ وَالصَّدَقَۃِ وَاَفْعَالِ الْخَیْرِ جَمِیْعِھَا** یعني **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به [د فرضو نه پس] ډېر ډېر لمُونځونه کول، روژے به ئے نیولے، حجونه به ئے کول، صدقه و خیرات به ئے کول او د نیکۍ ټولو کارونو کښې به ئے حصه اخستله. (اسد الغابۃ، رقم:۱۱۷۳، الحسین بن علی، ۲/۲۸)

﴿۲﴾ د هغوئي صاحبزاده حضرتِ سَیِّدُنا امام زَینُ العابِدین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ فرمائي: زما والد محترم حضرتِ سَیِّدُنا امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به شپه او ورځ کښې زر رکعاته نفل ادا کول. (عقد الفرید، باب من کلام الزھاد و أخبار العباد، ۳/۱۱۴ مختصرا)

**اے د امام حُسین عاشقانو!** تاسو واوریدل چه **حضرتِ امام حُسین** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به د عبادت څومره ډېر شوق لرلو او ډېر ډېر نفلي عبادتونه به ئے کول، مونږ ته سوچ کول

پکار دي چه زمونږه د پينځه وخته فرض لمونځونو څه حال دے؟ **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به ډيرے ډيرے نفلي روژے هُم نيولے، آيا مونږه فرض روژے نيسو؟ **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به نيك اعمال كول، **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به ډير ډير نفلي صدقات و خيرات كول، آيا مونږه فرض زكوٰة ادا كوو؟ **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ به ډير نفلي حجونه ادا كول، مونږ ته غور كول پكار دي چه آيا مونږه د حج فرض كيدو باوجود فرض حج ادا كړے كه نه؟ الغرض هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ به خپلے ورځے او شپے د الله پاك په اطاعت او فرمانبردارئ او عبادتونو كښے تيرولے او يو ساعت به ئے فضول نه تيرولو. بلكه هر وخت به ئے زړه د الله په ياد كښے مصروف وو او په ژبه به ئے ذِكرُ الله جاري وو، يعني هغوئي به په ناسته ولاړه هر وخت د الله ذِكر كولو او خاص طور د لمَانځه اداكولو ډير زيات خيال به ئے ساتلو او په ډير شوق او مَحبَّت به ئے لمُونځ ادا كولو، ځكه چه د لمَانځه تعليم خو ئے په ماشوم والي كښے د نبـي كريم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه حاصل كړے وو، دا د هم هغه مدني تربيت بركتونه وو چه هغوئي به د فرض لمُونځونو سره سره ډير ډيرنفلونه هُم ادا كول.

**سُبْحٰنَ اللّٰه!** قربان شم! د **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د عبادت و رياضت د شوق نه، چه د جَنَّتي ځوانانو سردار دے، **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ اوچتے مرتبے والا صحابي دے، **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د حضرت عَلِـيُّ المُرتضٰی رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ شهزاده دے، **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د بي بي فاطِمه رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہا د ځيګر ټكړه ده، **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د خور نبـي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسے دے، **حضرتِ امام حُسين** رَضِیَ

اللّٰہُ‌تعالیٰ‌عَنْہ د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ‌عَلَیْہِ‌وَاٰلِہٖ‌وَسَلَّم په اهلِبيتو کښې شامل دے او د اهلِبيتو شان دا دے چه خوږ مکّي مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ‌عَلَیْہِ‌وَاٰلِہٖ‌وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: يو بنده هُم کامِل مومِن نه شي کيدے تر څو چه ما سره د خپل ځان نه هُم زيات مَحبَّت اونکړي او زما ذات هغه ته د خپل ذات نه زيات خوښ نه وي او زما اولاد هغه ته زما د اولاد نه زيات ګران نه وي او زما اَهلِبَيت هغه ته د خپل کور د کسانو نه زيات ګران او محبوب نه شي. (شُعَبُ الْاِیمان، باب فِی حُبّ النبی ج۲ ص۱۸۹ حدیث۱۵۰۵)

حضرتِ سَیِّدُنا امام حسين رَضِیَ اللّٰہُ‌تَعَالٰی‌عَنْہُ صحابۂ کرامو کښې شامل دے او د صحابۂ کرامو عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ‌وَالسَّلَام دا شان دے چه زمونږ خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ‌عَلَیْہِ‌وَاٰلِہٖ‌وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: ستاسو د غـر همره سره زر خيرات کول زما د کوم يو صحابي د پينځه پاوه وربشو خيرات کولو بلکه د هغے د نيمے همره هُم نه شي کيدے.“ (بخاری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب قول النبی لو کنت متخذا خلیلا، ۵۲۲/۲، حدیث: ۳۶۷۳)

د دے ټولو فضائلو باوجود د حضرتِ سَیِّدُنا اِمام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ‌تَعَالٰی‌عَنْہُ حال دا دے چه فرائضو سره سره به ئے ډير ډير نفلي عباداتونه هُم کول.

## د اولاد ښه تربِيَّت اوکړئ

**اے د صحابه او اولياؤ عاشقانو!** مونږ د حضرتِ سَیِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ‌تَعَالٰی‌عَنْہُ د نفلي عبادتونو مُتَعَلِّق واوريدل، مونږ ته پکار دي چه د خپلو عبادتونو جائزه واخلو، نفل عبادتونه خو په خپل ځائے، خو اول دا سوچ کول پکار دي چه آيا مونږه پينځه وخته فرض لـمونځ په صحيح طريقه ادا کوو؟ آيا جَمعے سره [يعني اِمامتئ سره] د لـمانځه ادا

کولو اهتمام کوو.

د حضرتِ سَیِّدُنا اِمام حسین رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ تربِیَّت زمونږ د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارکه غیږه کښے شوے وو. آیا مونږه کله د خپلو بچو او کور والؤ د قرآن و سُنَّت مطابق د تربِیَّت کولو سوچ کړے دے. مونږ ته پکار دي چه د خپلو بچو او کور والؤ د تربِیَّت د پاره وخت اوباسو او د هغوئي داسے تربِیَّت کولو کوشش اوکړو چه په زړونو کښے ئے د عبادت شوق پیدا شي.

**یاد ساتئ!** که بچي مو په وړوکوالي کښے د ناجائزه او حرامو کارونو نه بچ کړل او د هغوئي مو ښه تربیت اوکړو نو په دُنیا او آخِرت کښے به کامیابي د هغوئي مقدر شي، څنګه چه سیِّدُنا امام حُسین رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ په ماشوم والي کښے د ښه تربیت په برکت د بیشمیره صِفَتونو مالك جوړ شو، لِهٰذا په مور و پلار باندے لازم دي چه د بچو ښه تربیت اوکړي ګني د قیامت په ورځ به په دے باره کښے تپوس کیږی، چنانچه

حضرت سیِّدُنا عبد الله بن عُمر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہما یو کس ته اوفرمائیل: د خپل بچي ښه تربیت اوکړه ځکه چه ستا نه به ستا د اولاد په باره کښے تپوس کیږي چه تا د هغه څنګه تربیت کړے وو او تا هغه ته څه زده کړي وو.

(شعب الایمان، باب فی حقوق الاولاد والاهلین، ۶/۴۰۰، حدیث: ۸۶۶۲)

**یاد ساتئ!** که مونږه د خپلو بچو د اصلاح کوشش اونکړو او هغوئي مو د لَمانځه او روژے پابند جوړ نه کړل نو د قیامت د ورځے رُسوائے سره سره به دُنیاوي نقصان هُم دا کیږي چه بیا غټ شي نو زمونږ خبره به هُم نه مني، بیا به زمونږ په ښه خبره هُم

غُصَّه کيږي او ورځ په ورځ به زمونږ د پاره د پريشانئ باعث جوړيږي خو بيا به سوا د پښيمانتيا نه هيڅ په لاس نه راځي.

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو مسلمانانو ته د اِمام حُسَين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ د عبادتونو په خاطر د فرضو عباداتو سره د ډير ډير نفلي عباداتو کولو توفيق را کړي. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د تلاوتِ قرآن جذبه

**اے عاشقانِ امام حُسَین!** څنګه چه سيِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ د ډيرو ډيرو نفلي لمونځونو کولو شوق لرلو، دغسے هغوئي د ډير ډير تلاوتِ قرآن شوق هُم لرلو، **راځئ چه** د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ کثرت سره د تلاوتِ قرآن کولو متعلق واورو: چنانچه

حضرت سيدنا امام شعبي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تعالٰی عَلَیْہ فرمائي: **رَاَيْتُ الْحُسَيْنَ يَتَخَتَّمُ فِيْ شَهْرِ رَمْضَانَ** يعني ما اوليدل چه سيِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ به په رمضانُ المُبارك کښے د مکمل قرآنِ کريم ختم فرمائيلو. (سیر اعلام النبلاء، الحسین بن علی، ۴/۴۱۰)

## د قرآنِ کريم باعمله عالِم

حضرت سيِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عَنْہ د قرآنِ مجيد باعمله عالِم، د تقوٰی و پرهيزګارئ او خوفِ خُدا نمونه او ډير زيات سخاوت کوونکے وو. (شہادت نواسہ سید الابرار، ص ۴۷۳ ملخصًا)

## د تلاوتِ قران او لمُونځ سره محبت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د سيِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ د قرآنِ کريم د تلاوت او لمُونځونو سره د محبت اندازه د دے خبرے نه اولګوئ په نهم **مُحَرَّمُ الْحَرَام** چه کله يزيديانو سره د صلح کولو اُميد ختم شو نو امام عالي مقام، سَيِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ خپلو ملګرو ته اوفرمائيل چه په څه طريقه دا جنګ د صبا ورځے پورے حصار کړے شي او نن شپه مونږ ته د الله پاك د عبادت د پاره نصيب شي نو ډيره ښه به وي، بيا ئے اوفرمائيل: که موقع ملاو شي نو نن شپه په لمَانځه، دُعا او استغفار کښے تيره کړو ځکه چه ما ته د الله پاك د رضا د پاره **لمانځه** او تلاوتِ قران سره محبت دے او په کثرت سره دُعا او استغفار زما معمول دے. (الکامل فی التاریخ،۳/۴۱۵)

**اے عاشقانِ صحابه و اهلبيت!** لږ سوچ اوکړئ! چه چاپيره د دُښمنانو ګنړه وي، مصيبتونه او ازميښتونه جاري وي او د څښلو د پاره اوبه هُم نه وي نو زمونږ په شان خلق به دا خواهش کوي چه کاش په څه طريقه د دے مصيبتونو نه خلاص شو، خو د سَيِّدُنا امام حُسين رَضِیَ اللہُ تعالٰی عَنْہ خواهش اوګورئ چه فرمائي کاش چه دا شپه هم د عبادت کولو سعادت رانصيب شي، چه دا شپه هم په تلاوتِ قرآن کښے تيره شي، کاش چه دا شپه هم دُعاګانو او مناجاتو کښے تيره شي واقعي دا د عبادت داسے اعلیٰ جذبه او شوق وو چه په ميدانِ کربلا کښے هُم د دومره زياتو تکليفونو او مصيبتونو باوُجود هُم دا جذبه کمزوري نه شوه او په ميدانِ کربلا کښے ترينه لسو ورځو کښے يو لمُونځ هم نه دے قضا شوے، د عبادت دومره شوق، دومره شوق چه په آخري وخت کښے ئے هُم خپل سر مبارك د الله پاك په بارګاه کښے ښکته کړو او د سجدے په حالت کښے شهيد شو.

# دولسو مدني کارونو کښے يو مدني کار
# "د سحر د لـمانځه نه پس مَدَني حلقه"

**اے عاشقانِ امام حُسين:** که تاسو هم د الله و رسول عَزَّوَجَلَّ و صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د احکاماتو مطابق ژوند تيرول غواړئ، د لـمانځه، روژو او نفلي عباداتو پابندي کول غواړئ او د امام حُسين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْه په سيرت باندے د عمل کولو جذبه زياتول غواړئ نو فوراً د عاشقانِ رسول د مدني تحريك دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره تړون اوکړئ او خپل څه نه څه وخت اوباسئ او د ذيلي حلقے دولسو مدني کارونو کښے د يو مدني کار ذِمه واري واخلئ. د ذيلي حلقے دولسو مدني کارونو کښے يو کار **"د سحر د لـمانځه نه پس مدني حلقه"** هم ده. چه په هغے کښے د سحر د جَمعے [يعني د امامتئ د] لمَانځه نه پس د دعوتِ اسلامي تحت ډيرو جُماتونو کښے هره ورځ د درے آيتونو تلاوت د ترجَمه کنز الايمان او تفسير خزائنُ العرفان يا تفسير نورُ العرفان يا تفسير صِراط الجِنان سره لوستل، مدني درس(درسِ فيضانِ سُنَّت)، منظوم شجره قادريه رضويه عطاريه د لوستلو او اوريدلو اهتمام کيږي.

دولسو مدني کارونو کښے د دے مدني کار **"د سحر د لـمانځه نه پس مدني حلقه"** تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د **مکتبةُ المَدينه** رساله **"بعد فجر مدني حلقه"** اولولئ، ټول اسلامي ورونړه دِ د دے رسالے لازمي مطالعه اوکړي، دا رساله د دعوتِ اسلامي ويب سائټ نه هم لوستلے شئ او ډاؤن لوډ کولے ئے هم شئ.

په دے رساله کښے تاسو لوستے شئ ☆ د سحر د لـمانځه نه پس مدني حلقه څه

ته وائي؟ ☆ د مدني حلقے لګولو طريقه ☆ د مدني حلقے د معمولاتو وضاحت ☆ د فيضانِ سُنَّت متعلق فائده مندے خبرے ☆ د شجره شريف لوستلو برکتونه ☆ د دُعا فائدے ☆ د اشراق و څاښت [د نفلونو] برکتونه ☆ د مدني حلقے لګولو فائدے او ☆ د مدني حلقے لګولو يو څو احتياطونه وغيره

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ☆ د مدني حلقے په برکت په جُمات کښے د کښيناستلو ثواب حاصليږي ☆ د سحر د لمانځه نه پس مدني حلقه د قرآنِ کريم د تعليم سره د ترجمے او تفسير د حاصلولو بهترينه ذريعه ده ☆ د سحر د لمانځه نه پس مدني حلقے په برکت د اشراق و څاښت نفلونو ادا کولو موقع نصيب کيږی ☆ د سحر د لمانځه نه پس مدني حلقه کښے د بُزرګانِ دين په ذِکرِ خير باندے د مشتملے شجره شريف لوستلو اوريدلو سعادت نصيب کيږی. اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دے شجرے مبارکے په برکت د ډيرو عاشقانِ رسول دُعاګانے قبليږی، د مصيبتونو او پريشانو نه ئے خلاصے نصيب کيږي او بند کارونه ئے روانيږی، راځئ چه د ترغيب په طور يو مدني سپرلے واورو، چنانچه

## ويزے مِلاؤ شوے

يو اسلامي ورور تقريباً ۱٤ کالو نه په بَهَر وطن کښے دے او شپږو کالو نه د دعوتِ اسلامي مدني ماحول سره تعلق لري. هلته ئے خپل کاروبار دے. هغه ته يو ځل په خپله کارخانه کښے د کاريګرو ضرورت پيښ شو. هغه د ويزو د پاره څو څو ځله درخواستونه

جمع کړل، خو د ډیرو کوششونو باوُجود ورته ویزے مِلاو نه شوے. دے دوران کښے څو کاله داسے تیر شو، هغه ډیر پریشانه وو ځکه چه د کاریګرو نه ملاویدلو په وجه د هغه نقصان کیدو. خیر هغه هِمَّت اوکړو او یو ځل ئے بیا درخواست جمع کړو. دے دوران کښے یو اسلامي ورور هغه ته د ''**شجره قادریه رضویه ضیائیه عطاریه**'' نه د شجره عالیه دُعائیه اشعارو لوستلو مشوره ورکړه. هغه د شجرے شریفے نه دُعائیه اشعار پابندئ سره لوستل شروع کړل. **اَلْحَمْدُ لِلّٰه**! د حیرانتیا خبره ده چه د شجره قادریه رضویه ضیائیه عطاریه لوستلو په برکت یو څو ورځو کښے هغه ته ویزے ملاؤ شوے.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## صدقه و خیرات

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د سیدنا امام حُسین رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه د عباداتو مُتَعَلِّق بیان اوریدلو، څنګه چه هغوئي د فرائضو واجباتو او نفلي لمُونځونه پابندي کوله، دغسے هغوئی کثرت سره نفلي صدقات او خیرات هُم کول، د غریبانو مسکینانو مدد به ئے کولو، دا د هغوئي خانداني وراثت وو، ځکه چه هغوئي د اهلبیتو د سخي کورنئ یو کس وو، ځکه په سخاوت او د الله په لاره کښے خرچ کولو کښے د چا نه هُم کم نه وو. هغوئي د صدقه و خیرات ډیره زیاته جذبه لرله او بعضے وخت به ئے خپل ضرورتونه په خپلو مسلمانانو ورونړو باندے قربان کړل. راځئ چه د هغوئي د صدقه و خیرات په باره کښے یوه واقعه واورو: چنانچه

## سخي داسے وي

یو ځل یو کس د سیدنا امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ په خدمت کښے حاضر شو او د خپلے تنګدستئ او لوږے شکایت ئے اوکړو، هغوئي ورته اوفرمائیل لږ کښینئ! زما وظیفه راروانه ده، څنګه چه وظیفه را اورسي نو تاسو به رخصت کړم. لږ ساعت تیر شو چه د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ له طرفه د زرو زرو دینارو پینځه تیلئ د هغوئي په خدمت کښے پیش کړے شوے. پیغام راوړونکي عرض اوکړو چه سیدنا امیر معاویه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ ډیره په عاجزئ سره فرمائیلي دي چه دا لږ رقم قبول کړئ او په غریبانو کښے ئے تقسیم کړئ. حضرت سیدنا امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ ټول رقم هغه غریب ته ورکړو او ورته ئے اوفرمائیل چه معافي غواړم تاسو انتظار اوکړو. (کشف المحجوب، باب فی ذکر آئمتھم من اھل البیت، ص۷۷)

**اے عاشقانِ امام حُسین!** د دے واقعے نه دوه خبرے معلومي شوے.

**یوه** دا چه حضرت سیدنا امام حُسین رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ به د صدقه و خیرات کولو، د غریبانو، تنګدستو، محتاجو او حاجت مندو مدد کولو څنګه چه اوس مونږه واوریدل چه هغوئي ټول رقم فوراً هغه غریب و محتاجه ته ورکړو خو افسوس په دے زمانه کښے مونږه د بُخل نه کار اخلو او صدقه و خیرات کولو کښے سُستي کوو، که څوك حاجتمند هم راشي نو د کاروبار یا روزګار د کمزورئ ګیلے شروع کړو او په دروغو ترینه ځان خلاص کړو او که چرته چا سره د مدد کولو توفیق رانصیب شي نو د حُبِّ جاه [یعني د عزت او شُهرت خواهش] او ریاکارئ په آفت کښے اخته شو، د چا مدد چه اوکړو هغه سره تصویرونه اوباسو او بیا هغه په سوشل میډیا باندے اَپ لوډ کوو او په دے آفت کښے اخته شو چه

خلق واه واه اوکړي او زما صفتونه اوکړي. ياد ساتئ! په صدقه و خيرات کولو په ظاهره مال کميږي خو په حقيقت کښے [زياتيږي] يعني ډير ډير برکتونه ورسره حاصليږي څنګه چه

## په صدقه ورکو مال نه کميږي

زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: **مَا نَقَصَ مَالٌ مِنْ صَدَقَةٍ** يعني په صدقه ورکولو مال نه کميږي. (معجم اوسط، من اسمه احمد، ۱/۶۱۹، حديث: ۲۲۷۰)

**بله دا** چه سيدنا امام حسين رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْه د عاجزئ او انکسارئ نمونه وو ځکه خو ئے لږ شان ناوخته کيدلو باندے د هغه کس نه معافي اوغوښتله، حالانکه د هغوئي د پاره د دے خبرے معافي غوښتل ضروري نه وو، خو بيا ئے هم معافي اوغوښتله. او که مونږه په خپل حال غور اوکړو نو عاجزي و انکساري خو لرے خبره ده، مونږه د غلطيانو کولو باوُجود معافي نه غواړو او ځان بدمعاش ثابتولو د پاره داسے وايو: **وروره مونږه خو د شريفانو سره شريفان او بدمعاشانو سره بدمعاشان يو، که څوك جګړه کوي ر اتير دِ شي چه پته ئے اولګي، څوك چه راته يوه خبره اوکړي مونږ ورته لس خبرے کوو، څوك چه څه تکليف راکړي مونږ د هغه سکون ختم کړو.** او زمونږه بزرګانو سره به که چا څه بدتميزي اوکړه نو هغه سره به ئے هم ښه اخلاق اختيارول، هغوئي به د غلطئ نه کيدلو باوُجود هم معافي غوښتله، زمونږه بزرګانِ دين ته که چا کنزلے هم اوکړے نو هغوئي به ورته په جواب کښے دُعاګانے کولے، زمونږه بزرګانِ دين به چه چا خفه کړل نو هغوئي ته به ئے هم معافي ورکوله. او

زمونږه حال دا دے چه بغير د څه شرعي وجهے خلق خفه كوو، قَصداً [يعني اِرادَتاً] خلقو ته تكليف وركوو، د خلقو غيبتونه كوو، ناحقه د خلقو حق وهو، خلقو ته كنزلے كوو، مونږه د خلقو نه د بدله اخستلو موقعے لټوو، لِهٰذا مونږ له پكار دي چه د دا بد عادتونه پريږدو او د خپلو مشرانو په لار روان شو، د معاف كولو، د حِلم و بُردبارئ، برداشت، عاجزئ و انكسارئ عادت جوړ كړو.

## عاجزي اختيار كړئ

د خَاتَمُ الْمُرْسَلِيْن، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: په صَدَقه وركولو مال نه كميږي او چه بنده د چا قصور مُعاف كړي نو الله تعالیٰ به د هغه (يعني د مُعاف كوونكي) عِزَّت زياتوي او څوك چه د الله تعالیٰ د پاره تَواضُع (يعني عاجِزي) اوكړي، الله تعالیٰ به هغه ته اوچت والے وركړي. (صحيح مُسلِم ص۱۳۹۸ حديث۲۵۸۸ دار ابنِ حزم بيروت)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره كښے د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوكړو هغه زما سره مَحَبَّت اوكړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوكړو هغه به جنّت كښے زما سره وي." (ابنِ عساكر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِينه مے دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا جنّت كښے مے خپل جوړ كړه گاونډي خوږه آقا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د عِمامه شريف 17 مَدَني ګلونه

**شپږ فرامينِ مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ﴿۱﴾ عِمامے سره دوه رکعاته لـمُونځ د عِمامے نه بغير د اويا "۷۰" رکعاتو نه افضل [يعني غوره] دے. (الفِردوس بمأثور الخطاب ج ص حديث) ﴿۲﴾ په ټوپۍ باندے عِمامه زمونږه او د مُشرِکينو په مينځ کښے فرق دے، هر لړ چه مسلمان ئے د خپل سر نه تاوهي په هغے به د قيامت په ورځ يو نُور ورکولے شي. (الجامعُ الصَّغير لِلسُّيُوطی ص حديث) ﴿۳﴾ بيشکه الله تعالیٰ او د هغه فرِښتے دُرُود ليږي د **جُمُعے** په ورځ عِمامه والؤ باندے. (الفِردوس بماثور الخطاب ج، ص، حديث) ﴿۴﴾ د عِمامے سره لـمُونځ د لس زره نيکو برابر دے. (ايضاً ج ص، حديث ، فتاویٰ رَضَوِيّه ج ص،) ﴿۵﴾ عمامے سره يوه جُمُعه د بغير عمامے **70 جُمُعو** برابره ده. (تاريخِ مدينه لاِبنِ عساکر ج ص) ﴿۶﴾ عمامے د عرب تاجونه دي، نو عِمامه اوتړه ستا وقار [يعني عزّت] به زياتيږي او څوك چه عمامه اوتړي د هغه د پاره په هر لړ باندے يوه نيکي ده. (جمع الجوامع للسيوطی، ج، ص،، حديث) ﴿۷﴾ د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه** چاپ شوي د ۱۳۳۴ صفحو کتاب **بهارِ شريعت** جلد ۳، حِصّه ۱۶، صفحه ۶۶۰ کښے دي: عِمامه په ولاړه تړئ او پاجامه [يعني پرتوګ وغيره] په ناسته اغوندئ، که چا د دے خلاف اوکړه (يعني عِمامه ئے په ناسته اوتړله او پاجامه [يا پرتوګ وغيره] ئے په ولاړه واغوستو) نو هغه به په داسے مرض کښے اخته شي چه د هغے عِلاج نشته. ﴿۸﴾ مناسب دا دي چه د عِمامے ورومبے لړ د سر ښي طرف ته تاؤ شي. (فتاویٰ رَضَوِيّه ج ص) ﴿۹﴾ د **خوږ نَبِی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارکے عِمامے شِمله به عام طور د ملا مبارکے طرف ته وه او کله کله به ښي طرف ته،کله به د دواړو اُوګو تر مينځه دوه شملے وے. ګڅ طرف ته شمله زوړندول خِلافِ سُنَّت دي. (اَشِعَّةُ اللَّمعات ج ص) ﴿۱۰﴾ د عِمامے د شملے مقدار [يعني اوګږدوالے] کم نه کم څلور ګوتے او زيات نه زيات (د نيمے ملا پورے يعني تقريبًا) يو لاس. (فتاویٰ رَضَوِيّه ج، ص)

﴿۱۱﴾ عمامه مخ په قبله په ولاړه ولاړه تړئ. (کشفُ الالتِباس فِي اِستِحبابِ اللِّباس ص) ﴿۱۲، ۱۳﴾ په عمامه کښے سُنَّت دا دي چه د دوه نیم ګزه نه کمه نه وي، او نه د شپږو ګزو نه زیاته، او دا د ګُنبد په شان اوتړلے شي [یعني داسے چه مینځ ئے بره وتلے وي] (فَتاویٰ رَضَوِیّہ ج،ص) ﴿۱۴، ۱۵﴾ رومال که غټ وي او دومره لړونه تاؤ شي چه سر پټ کړي نو دا عِمامه شوه او وړوکے رومال چه د هغے نه یو دوه لړه جوړ شي د دے تاوهل مکروه دي. (فَتاویٰ رَضَوِیّہ ج،ص) ﴿۱۶﴾ که [ځوك] عِمامه سپړي او بیا ئے تړل غواړي نو چه څنګه تړلے شوے ده هم هغسے دِ ئے [یو یو لړ] سپړي، په یو ځل دِ ئے په زمکه نه غورزوي. (الفتاویٰ الهندیة ج، ص)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَه دوه کتابونه (۱) د ۳۱۲ صفحو کتاب "بهارِشریعت" حصّه ۱۶ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب "سُنَّتیں اور آداب" هدیه کړئ او اولولئ. د سُنَّتو د تربِیَّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښے عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د راروانے هفته وارے اجتماع د بیان جهلکیانے

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د آئنده هفته وارے د سُنّتو ډکے اجتماع د بیان موضوع به وي د "**سِیرتِ بِلالِ حَبشي**" اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ په دے بیان کښے به د حضرتِ سَیِّدُنا بِلالِ حبشي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ **مختصر** تعارُف، فضائل او بِالخُصُوص د هغوئي په ایمان باندے اِستِقامت او د عِشقِ رَسُول واقعات اورو، لِهٰذا د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره راروان زیارت له هُم اجتماع کښے د حاضرئ نِیَّت اوکړئ او د انفرادی کوشش کولو او نور اسلامی ورونړه ځان سره د راوستلو نِیَّت هُم اوکړئ. لاس اوچت کړئ او په

زوره اُووائے. اِنْ شَآءَاللّٰه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامى هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښے لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانے

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے اور زيارت مينځنۍ شپه باندے) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښے د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښے د داخليدو وخت كښے هُم، تر دے چه سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښے د خپل رَحمت نه ډكو لاسونو باندے كوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښے او كه ناست وو نو

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

اودریدو نه مخکښے به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چه مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّدٍ

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته کړے شي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صاوِی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندے د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ په مینځ کښے کښینولو، دے باندے صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم حیران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتے مرتبے والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى الله

---

1...القول البدیع، الباب الثانی، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص١٤٩

تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چه كله په ما باندے دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئے لوَلي.[1] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسے دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دے چه سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دے د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورے نيكئ ليكي.[3] راځئ چه مونږه ئے هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسے ده لكه شبِ قدر ئے چه حاصل كړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درے ځله اولوستله نو لكه هغه چه شَبِ قَدر حاصل كړو.[4] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شريكه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

---

1 ...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2 ...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

3 ...مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة...الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

4 ...تاريخ ابنِ عساكر، ١٥٥/١٩، حديث:٤٤١٥

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللہ پاک دے چه د ووه وارِو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد